مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نور محمد لاهو

۲۰۲۳/۱۰/۱۳

# زړه دې واخله

زړه دې واخله
زړه دې واخله
په سینې پورې دې جوخت کړه
دا ماشوم ګلاب نور مه پرېږده یو وخت دچا د پښو لاندې
زخمي شي
د انسان مینه اخیره پورې نه وي
پخواني زاړه یاران هم اوس په خپلو کې پردي دي
بنیادم دې لکه سیوری
تل دلمر په رضا درومي
زړه دې واخله
زړه دې واخله
په سینې پورې دې جوخت کړه
داماشوم چیرته ډیر لیرې له دې خلکو نه ویده کړه!
دا چې لوخې پښې روان یی
غواړې باد او بارانونه خپله غیره کې بندي کړې
خو رڼا ته نجات ورکړې
دا نیم ژواندې ډیوه ګی دی هم له ځانه سره واخله
توره شپه ده
چې د باد او د باران په ځای
خپل ځان زندانی نه کړې





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ